شریعت
اوونیزه
دافغانستان دطالبانو داسلامي تحریك نشراتي ارگان

لومړی کال | نه څلویښتمه گڼه | دوشنبه د۱۳۷۵ هـ ش کال دقوس دمیاشتي (۱۹) | د۱۹۹۶میلادي کال دسمبر (۹) | د۱٤۱۷هـ ق کال رجب المرجب (۲۹)

ولي غیر اسلامي حکومت غواړي؟

لوی خدای (جل جلاله) فرمائي، : «آیا دغه خلك دجاهلیت حکم غواړي؟ او کوم قوم چي په الله (جل جلاله) باندي باور لري، ددوي دپاره له الله (جل جلاله) نه ښه حکم کوتکی څوك دی؟ (بلکي یواځي الهي حکومت دي چي دخلکو درسته لاربښوونه کوي)

ژباړه :(المائده - ٥٠)

داسلامي حکومت دپاره څان جوړ کړئ

یونس بن اسحاق «رضي الله عنه» له خپل پلار څخه روایت کوي وایي: دالله رسول صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي «څنګه چي تاسي یاست همغسي حکمران به په تاسي باندي مامور کیږي حکومت به کوي)

(مشکوة- باب کتاب الاسارت)

یوازي طالبانو وکولای شول چي د څوارلس کلن جهاد هیلي او اصالتونه را ژوندي کړي

مور خپل امیر المومنین لرو او دده په قیادت کي به اسلامي نظام راولو

مولوی احسان الله «احسان»

په افغانستان کي دطالبانو اسلامي تحریك وښوده چي علماء او طالبان حکومت کولی شي

مولانا سمیع الحق

د پنجشنبي په ورځ د قوس د میاشتي په ۱۵ مه نیټه په اکوړه خټك کي علماو ته د فضلیت د پګړي دتړلو شانداره مراسم ترسره شول. په دي غونډه کي چي دغرمي په یوه نیمه بجه د قران عظیم الشان دځو مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه دجمعیت علماء اسلام پاکستان (س) په بلنه دافغانستان بانك درئیس مولوي احسان الله احسان په مشري یو لوړ رتبه هیئت چي د شهداو او معلولینو وزیر مولوي عبدالباقي حقاني، مولوي حفیظ الله، دحج او اوقافو دوزارت معین مولوي محمد مسلم(حقاني)، حاجي نور الله، دننګرهار ولایت مرستیال، مولوي صدر اعظم او مولوي محمد طیب صدیقي هم ورسره و په دي غونډه کي ګډون وکړ. دجمعیت علماء اسلام پاکستان (س) مشر او د حقانیه دارلعلوم مهتمم مولوي سمیع الحق دغونډي برخه والو ته یوه اوږده او عالمانه وینا وکړه چي په یوه برخه کي یې وویل: طالبان په ابتدا کي هرچا ته کمزوري ښکاریدل خو تاسي ولیدل چي دلوي خداي(ج) په نصرت یې تقریباً ټول افغانستان فتح کړ اوس موږ ټولو ټبرالو ته دافغانستان دطالبانو (٤ مخ)

د یو ملیون جعلي افغانیو جلوونکي ونیول شول

د کابل ددرمي حوزي مسوولینو دیلهتو په لړ کي د جمعي په ورځ دیو ملیون جعلي افغاني نوټونو چلوونکي لاس په لاس ونیول.

د خبارہ شوي خبر له مخي دجعلي نوټونو چلوونکو چي نومونه یې نه دي افشا شوي قونسل تومورو نوټونه بدل کړي چي په همدي وخت کي دپولیسو له خوا ونیول شول او دتحقیق له پاره مربوطو ځانګو ته ولیږل شول.

جعلي نوټونه همغه لس زریز نوټونه دي چي ددوستم له خوا چاپ شویدي.

په کوټه کي په افغان قونسلگرۍ کښي ستره غونډه وشوه

د (شهدا کنفرانس) په نامه یوه ستره غونډه دتیري دوشنبي په ورځ په کوټه کي د افغانستان داسلامي دولت په قونسلگري کي جوړه شوه. د رارسیدلي خبر له مخي په دي غونډه کي چي د سهار په اتو بجو پیل او تر یوو بجي پوري یې دوام درلود پنګه ګڅله دقرانکریم ختم وشو او په هغي کي د اهل تشیع په شمول دهیواد زیات شمیر عالمانو او دقومونو مشرانو چي شمیرئ نژدي څلور سوه تنو ته رسیده ګډون درلود. غونډه دقرانکریم دځو ایتونو له لوستلو وروسته پیل شوه او په هغي کي مولوي سدوزي اغا، مولوي عبدالصمد جوزجاني او مولوي عصمت الله «حقیار» په ترتیب وینااوي وکړي.

مولوي جوزجاني وویل: دلته دیر ځله تبدیلي شوي خوځول اسلامي اجتماع نه ده دایره شوي. مولوي حقیار څرګنده کړه چي د شهیدانو دوینو رنګ راوړي ژر ده چي داسلامي تحریك سرتیري به ټول افغانستان تر خپلي ولکي لاندي راولي. مولوي سیدوزي اغا وویل: مور به دیو نیم ملیون شهیدانو ارمانونه پوره کوو. وروسته داسلامي دولت جنرال قونسل مولوي محبیب الله دڼري له ټولو هیوادو په تیره بیا اسلامي مملکتونو څخه غوښتنه وکړه چي اسلامي دولت په رسمیت وپیژني په پای کي مولوي عبدالعلي (دیوبندي) په افغانستان کي دامن او سولي د راتلو له پاره اوږده دعا وکړه.

د عالمانو او طالبانو یوی لوی ډلي له امیرالمومنین سره غایبانه بیعت وکړ

په زرګونو تنو افغاني عالمانو او طالباالعلمانو د امیر المومنین محترم ملا محمد عمر (مجاهد) د ملاتړ اعلان کړیدي او دافغانستان بانك لوی رئیس مولوي احسان الله «احسان» په لاس یې غایبانه بیعت وکړ.

د رارسیدلي خبر له مخي مولوي احسان الله «احسان» په اکوړه‌کي دجامعه حقانیه دیګړي تړلو په غونډه کي وویل: محترم ملا محمد عمر مجاهد زموږ امیر المومنین دي او په ټول افغانستان کي د بیعت لړي جاري ده او هغه غواړي چي موجود علما، او طالبان دي هم په اسلامي طریقو دامیرالمومنین بیعت وکړي. خبر زیاتوي: ددي مقصد له پاره مولوي احسان الله «احسان» خپل لاس او چټ کړ او وریسي د داولعلوم په پراخ انګړ کي په زرګونو موجودو افغاني عالمانو او طالب علمانو هم خپل لاسونه جګ کړل څکه چي په جلا جلا توګه د بیعت او لاس ورکولو امکان نه ؤ. د خبر ځاي په حواله په پاکستان کي امیرالمومنین سره دبیعت دا دوهم وار دي. ددي نه مخکي د افغانستان په بیلو بیلو ولایاتو کي مختلفو قومانداناتو علماوو، طالبانو او عامو خلکو د محترم ملا محمد عمر مجاهد بیعت کړیدي.

د اریانا بوینګ الوتکي داخلي الوتني پیل کوي

داریانا افغان هوایي شرکت او ورسره اووه ویشت بوینګ الوتکي په دخلکو د هوسایي له پاره په داخلي الوتنو پیل وکړي. دشریعت غږ رادیو په قول دحکومت له پریکړي سره سم تاکل شویده دغه مسافر وړونکي الوتکي دکابل کندهار، هرات او جلال اباد ترمینځ د مسافرینو په لیږدولو دیر ژر پیل وکړي. شریعت غږ رادیو داریانا افغان هوایي شرکت دیوي منبع په قول وویل: په دي (٤مخ)

افغان سر قونسل مولوي شهاب الدین دلاور له شریعت اوونیزي سره په مرکه کي:

دغیر قانوني پیسو او رشوت اخستلو مخه مونیولي ده

په مختلفو جیل خانو کي دبندي افغانانو په خلاصولو کي مو ډیر کوششونه کړیدي

په پیښور کي افغان سرقونسل مولوي شهاب الدین دلاور شریعت اوونیزي سره دیوي مرکي په ترڅ کي وویل چي په افغانستان کي داسلامي دولت له استحکام وروسته چي ره دلته وټاکل شوم او په کار مو پیل کړي نو دمهاجرینو له مختلفو کمپونو څخه علما، و او سپین ږیرو زمونږ سره ارتباط ونیوه مونږ ته یې خپلي ستونزي وړاندي کړیدي. مونږ ددوی دستونزو دحل لپاره له مختلفو موسسو سره او په ګانګړي ډول څني شخصي دعوي چي مهاجرینو ته پیدا شویدي دهغوي دحل لپاره مو په پاکستان کي له افغان کمشنري سره ارتباط نیولي دي ډیر مکتوبونه مو تبادله کړیدي یو (٤مخ)

په فرزه کي دبلو پایپ (۹) توغندي او یوه اندازه دولتي مالونه کشف شول

د ټاکل شوي پوحي کمیسون دلټوني په لړ کي دجمعي په ورځ دفرزي په ولسوالي کي په نورو نظامي مهماتو برسیره دبلو پایپ (۹) توغندي کشف او ترلاسه شویدي. همدا راز دنظار شورا دیوه قوماندان ګل اغا له کور څخه یوه اندازه دولتي مالونه هم لاس ته راغلي دي. زموږ خبریال دشریعت رادیو په حواله لیکي: په دي شیانو کي کمپلي، چیرکټونه، څوکي، یخچالونه او یو شمیر مالونه او یوه اندازه چرس هم شامل دي.

یوځي شورا داسلامي اردو بریالی عملیات ارزیابي کړل

په کابل کي دپوځي شورا غونډه د جمعي په ورځ ددولت دسرپرستي شورا دمرستیال محترم ملا محمد حسن اخند تر مشري لاندي جوړه شوه او په مربوطو مسایلوئ بحث وکړ. دشریعت غږ رادیو وویل: په دي غونډه کي له مخالفینو سره د مقابلي په لړ کي بریالي پوځي عملیات ارزیابي او داسلامي اردو پرمختګونه مثبت وځیرل شول. خبر زیاتوي: په غونډه کي دیو شمیر موضوعاتو په باب چي مربوطو مراجعو ته ابلاغ شوي لازمي پریکړي وشوي

د نړیوالي روغتیا سازمان دامن په راوستو کي د اسلامي دولت کوشونه وستایل

دنړیوالي روغتیا اداري (ډبلیو، ایچ) داسلامي دولت د فعالیتونو نه امله ډاډ څرګند کړیدي او دامن په راوستلو کي یې دهغو دکوششونو ستاینه کړیده. درارسیدلي خبر له مخي دنړیوالي روغتیا اداري یوه استازي د اطلاعاتو او کلتور وزارت له سرپرست محترم ملا امیر خان متقي سره دلیدني په ترځ کي دافغانستان له اسلامي حکومت سره دهر ډول مرستو وعده وکړه. د باختر داطلاعاتي اژانس له خبر سره سم محترم امیر خان متقي له نوموړي نه مننه څرګنده کړه او وي ویل: په تیرو شلو کلونو کي دي نړیوالي اداري افغانانو ته روغتیایي لازمي او اساسي اسانتیاوي برابري کړیدي. محترم ملا متقي وویل: هیله ده دغه نړیواله اداره خپل فعالیتونه نور هم زیات کړي او هم خپل دفتر له جلال اباد نه کابل ته ولیږدوي په دي کتنه کي دعامي روغتیا معین محترم داکتر عبدالستار (پکتیس) هم حاضر ؤ

دهیواد او خلکو پر خلاف ائتلافونه...	۲مخ
دشریعت تبصره	۲مخ
نامه سرکشاده به ملل متحد	۲مخ
راغلي لیکونه...	۲مخ
دامید ملنګري	۳مخ
په افغانستان کي داسلامي ښوونې...	۳مخ
اسلام او ازادي انساني	ص۳

شوراي نظامي دولت اسلامي افغانستان تشکیل گردید

اخیراً دولت اسلامي افغانستان جهت مقابله باقوت هاي ائتلاف مخالفین و تطبیق موثر پلانها و عملیات نظامي، شوراي نظامي تاسیس کرده است. طبق اطلاعات نشر شده رئیس این شورا محترم ملا محمد حسن اخند معاون شوراي سرپرست کابل میباشد و دران ماهرین نظامي وعلما عضویت دارند.

شوراي نظامي جدید التاسیس وظیفه خواهد داشت تا پلان ها وعملیات جنګي را ترتیب و به حکومت مشوره دهد.

شوراي مذکوره دوروز قبل تحت ریاست محترم ملا محمد حسن اخند دایر گردید و درباره وضع نظامي، سیاسي و اقتصادي کشور بحث و مذاقه صورت گرفت وفیصله هاي مهمي را صادر کرد.

شوراي نظامي دولت اسلامي وظیفه ارتقا و تنزیل مناصب قوماندان ها رانیز به عهده خواهد داشت و راپور اجرات خودرا به مقامات بالا ارایه خواهد کرد.

بطروس غالي در انتخابات سهم نخواهد گرفت

بطروس غالي سرمنشي سازمان ملل محتد فیصله نمود تا با اثاني براي احراز پوست سرمنشي سازمان ملل محتد در انتخابات سهم نخواهد گرفت.

امریکا ازین فیصله بطروس غالي استقبال گرم نموده است یك نطاق قصرسپیدحین تبصره برفیصله بطروس غالي گفت که حالا براي کاندیدهاي دیګري زمینه مساعد گردید. البته موضوع انتخاب مجدد بطروس غالي یك موضوع متنازع فیه بود، روسیه، چین و بعضي از کشورهاي دیګر به شمول بعضي کشورهاي افریقایي از انتخاب مجدد بطروس غالي به حیث سرمنشي سازمان ملل متحد حمایت مي کردند. کشورهاي افریقایي علاقه داشتند تا دبیر سازمان ملل متحد براي پنج سال دیګر نزد کشورهاي افریقایي باشد اما امریکا شدیداً مخالف انتخاب مجدد بطروس غالي به حیث سرمنشي سازمان ملل متحد بود و حین تشکیل جلسه شوراي امنیت در ماه نوامبر از استعمال حق و یتوي خود استفاده کرد که این عمل امریکا از طرف ایران، روسیه، چین و بعضي کشورهاي دیګر تقبیح گردید. اخیراً حسني مبارك رئیس جمهور مصر گفت که بر انتخاب مجدد غالي دربست دبیر کلي اصرار نخواهد ورزید که به این ترتیب راه براي تطبیق نظر امریکا در مورد هموار گردید و اینك فیصله نهایي بطروس غالي موضوع را روشن ساخت.

تشکیل کمیسون خاص ملل متحد براي افغانستان گسترش یافت

بطروس غالي سرمنشي ملل متحد در تشکیل کمیسون خاص ملل متحد براي افغانستان از دیاد به عمل اورده و تعداد مبصرین نظامي از سه تن به پنج تن بالغ گردید. و دو تن افسرئیر جدیداً مقرر شده اند. طبق اطلاع منابع ملل متحد هدف ازین اقدام جمع اوري اسلحه وسرعت بخشیدن مذاکرات میان حلقه هاي مخارب میباشد. منابع میګوید این کار راه را براي اتش بند هموار خورهد کرد و شرایط براي تشکیل دولت وسیع البنیاد مساعد خواهد گردید. طبق گزارشات منابع اطلاعات کي در شهر کابل مردم عامه از خاط کمبود مواد خوراکه و سرماي شدید با مشکلات زیاد مورجه اند

سرمقاله

د هیواد او خلکو پر خلاف ائتلافونه نشي کولای

د افغانستان د اوږدي ستونزي د لا اوږدولو لپاره دا دي بیا نور ګامونه واخستل شول او په دي ترګه غواړي دلانجي د حل په لار کي نور زیات خنډونه پیدا کړي او زمونږ رنځیدلي او ربړیدلي هیوادوال تر یوي زیاتي نوري مودي لپاره هم د اور په بټي کي وساتي، دا چي دمخالفینو تازه اقدام تر څومره حده داهمیت وړ دي او ترکومه حده ددوي ترمنځ ائتلاف دوام موندلای شي دا بیله خبره ده، خو دا چي دوي غواړي له یو بل سره په درواغجن نړدیوالي خپل نامقدس ائتلاف ته قوت وبخښي د تامل وړ یوه موضوع ده.

په تیرو څه دپاسه څلورو کلونو کي زمونږ هیوادوال ددغه شان یو لړ زیاتو ائتلافونو د کیدو او بیا رنګیدو شاهد وو، د جبل السراج له نامقدس ائتلاف څخه را نیولي بیا د خنجانو تر نامقدس ائتلاف پوري او بیا دا نن چي په مزار شریف کي دائتلافیونو ترمنځ کوم نوي تړون وشو هغه ټکي دي چي (۲) مخ

زمونږ هدف د خدای (جل جلاله) پر ځمکه اصلاح راوستل او دفساد ورکول دي

شريعت

دامتياز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريك
دتاسيس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترکتنې لاندې
مسئول مدير : مولوي احمد جان
تيليفون : ۸٤۰۳۷۸
فاکس : ۸٤۰۳۷۸
ادرس : په پيښور کي دطالبانو داسلامي تحريك نمائندګي
ديوي ګڼي بيه : په هيواد کي (۵۰۰) افغاني
: په پاکستان کي (۳) کلداري

دسرمقالي پاتي برخه

زمونږ مسلمان او مجاهد ملت نه پخوا منلي وو او نه به يي وروسته له دي ومني او نه خو يي دغه شان ائتلافونو ته داهميت په نظر کتلي دي، ځکه ددوي دائتلافونو محوري نقطه چوکي او مقام دي، نو هر حرکت چي پرمادیانو ولاړ وي نه بوازي د چا لپاره دمنلو وړ نه وي بلکي پخپل ذات کي هم دوام نه شي موندلاي داځکه چي دائتلاف هر لوري کوښښ کوي په ائتلاف کي زياته ونډه ترلاسه کړي او مهم مقامونه په لاس کي ولري. دا نن چي په مزار شريف کي په کوم نوي ائتلاف موافقه وشوه د چوکيو او مقامونو دويش پر بنسټ ولاړ دي په داسي حال کي چي ړنګه شوي ائتلافي اداره اصلاً وجود نه لري او نه په قانوني لحاظ ديوي اداري اطلاق پري کيداي شي له بلي خوا په دي ائتلاف کي دشمال د مليشو قوماندان رشيد دوستم ته هغه مقام منل شوي دي چي که د نظار د شوري قوماندان مسعود يي مني، نو بيا به دده موقف څه وي او که يي نه مني، نو استاد رباني بيا په کوم قوت ځان په اصطلاح جمهور رئيس بولي او هغه کوم قوت وي چي دده ترشا ودريږي، نو هغه مجبور دي چي ددوستم په قوتونو تکيه ولري، خو په تجربو ثابته شوي ده چي دوستم کله هم له چاسره وفا نه ده کړي او نه دوفا تمه تري کيداي شي.

له استاد رباني او انجنير حکمتيار نه زمونږ پوښتنه دا ده چي تاسو ددين په طالبانو او ددين په عالمانو کي څه بدي ليدلي ده چي ديوه داسي چا په لمنه کي مو ځانونه وغورځول چي کلونه کلونه دحق دلاري دمجاهدينو په مقابل کي جنګيدلي، چوراو چپاول يي دنده ګرځيدلي او په دي توګه يي دګلم جم لقب ترلاسه کړي دي، نو ايا بنه به نه وه چي تاسو د مجاهدينو دمشرانو په توګه ديونيم ميليون شهيدانو وينو ته په درنه سترګه کتلي واي، د [illegible] ځانونه مو نه واي هير کړي او دکونډو اسويلي مو سخي نه درېدلي واي، په داسي حال کي چي يووخت همدا تاسو دګلم جم د مليشو سرسخت دښمنان ځانونه بلل او دهغوي په مقابل کي موجهاد اعلاناوه.

زمونږ مسلمان ملت په دي باور لري چي دمسلمان ملت پرخلاف دغه شان سازشونه او نه پائيدونکي ائتلافونه دوام نه شي کولاي او نتيجه به يي داسي وي لکه دتيرو ائتلافونو چي مسلمان ملت په خپلو سترګو وليده او هغه داسي چي يو په بل پسي له منځه ولاړل او بدنامي يي د تاريخ په پاڼو کي پاتي شوي، مونږ ديو خداي(ج) په مرسته او دخپل مسلمان ملت په همکاري باور لرو هيله من يو چي دغه سازش به هم لکه د نورو سازشونو په شان شنډ او برخه وال به يي د ملت له خوا په سزا ورسول شي.

د شريعت تبصره

په جاګارتا کي داسلامي کنفرانس دبرخه والو دپام وړ

ځکه چي اسلامي نړي لوي خداي(ج) د يوه امت په نوم ياده کړي ده او فرمايلي يي دي چي «دا ستاسو امت يوامت دي او زه ستاسي پالونکي يم، نو زما عبادت وکړئ» (الانبياء-۹۲) افغانستان ددغه اسلامي امت هغه برخه ده چي د تاريخ په اوږدو کي يي ورته زيات وياړونه او افتخارونه ګټلي دي، د نړي هر استعمار او استکبار يي را پرزولي دي. که پرون يي دانګريزي استعمار پرخلاف اسلامي جهاد ترسره کړي او هغه يي را په ګونډو کړي دي، نو نن يي د نړي هغه سور استعمار «شوروي اتحاد» نه يواځي دا چي رانسکور کړي بلکي د نړي له نقشي څخه يي دهغه نوم محو کړ او اوس دغه دواړه استعماري ځواکونه دنړيوال ځواك په توګه دتاريخ افساني ګرځيدلي دي. دا هرڅه ستاسي داسلامي امت غړي هيواد افغانستان ترسره کړي دي. ددغه هيواد با ايمانه او غيور ټولو مسلمانانو دا هر څه د ظالم په مقابل کي له خپل ځان، خپل هيواد او داسلامي امت د ګډ ناموس اسلامي عقيدي څخه ددفاع په خاطر ترسره کړي دي. دافغانستان اسلامي پوهانو لکه سيد جمال الدين افغاني دتل لپاره داستعمار پرخلاف اسلامي نړي بيداره کړي او ديووالي لوري ته يي رابللي ده.

دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريك چي د روسي استعمار پرخلاف يي په ځوارلس کلن جهاد کي ځلانده رول لوبولي او د شوروي اتحاد په اصطلاح نه ماتيدونکي لښکري يي مات کړي او له هيواد څخه يي وشړلي، او وروسته يي بيرته دخپلو نامکمل [illegible] دپاره په دي هيله دمبارزي لاره ونيوله چي اوس چه کمونيزم مات او روسي لښکري له هيواد څخه په وير [illegible] دهيواد جهادي ګوندونه به په افغانستان کي يو متمرکز واحد مرکزي اسلامي حکومت رامينځ ته کړي، له روسانو څخه به د ځوارلس کلني جګړي تاوانونه واخلي، وران او کنډواله افغانستان به بيرته ودان کړي، دهيواد سياسي، اقتصادي او اجتماعي بنسټونه به داسلام دمقدس دين په رڼا کي تاسيس او په ټول هيواد کي به يو اسلامي شرعي نظم رامينځ ته کړي، بدامني به په سوله او ګډوډي به په نظم بدله کړي، ديونيم ميليون شهيدانو ارمانونه به ترسره کړي، د په سلهاوو زره کونډو، يتيمانو او معيوبينو اوښکي به وروپاکي کړي او بالاخره ګران افغانستان به داسلامي امت او اسلامي نړي او بين المللي ټولني يو فعال، سالم او سوله غوښتونکي هيواد وګرزوي.

خو له بده مرغه په افغانستان کي دکمونيزم دماتي او روسانو دشړلو نه وروسته جهادي سران په پرتيبو اهدافو کي بريالي نشول، ددي په ځاي چي په هيواد کي په ګډه سره يو مرکزي اسلامي حکومت رامينځ ته کړي دوي په خپلو مينځونو کي په ورانوونکو ٤ مخ
جګړو پيل وکړ او ټول هيواد يي

از جانب اعضاي اجرايه، شوراي همستګي با تحريك اسلامي طالبان

نامهء سرګشاده به ملل متحد

اعضاي شوراي اجرائيه هم ستګي با تحريك اسلامي طالبان در حاليکه تعداد زياد از علما دانشمندان موي سفيدان و پروفيسوران نيز دران اشتراك نموده بود بتاريخ ۹٦.۱۱.۲۲ در شهر پشاور جلسه خويش را داير و به اتفاق ارا مکتوب ذيل را براي اداره محترم ملل متحد تحرير نمود.

اداره محترم ملل متحد: طوريکه شما از همه خوبتر ميدانيد و به صدها مراتب از طرف ملل متحد ممالك غربي صداي امريکا بي بي سي وغيره سازمانهاي بين المللي از طريق راديو ها وغيره وسايل دسته جمعي در چارو نيم سال دوره رياست غير قانوني اقاي رباني غرض اګاهي مردم ستمديده افغانستان نشر مي نموديد و اعتراف ميکرديد که در افغانستان حکومت قانوني وجود ندارد حقوق بشر زير پا ميشود دارايي عامه چورو چپاول ګرديده خانه هاي مردم ويران شده و به ناموس مردم تجاوز صورت ميګرد قتل و کشتار مردم بي دفاع يك امر کاملاً عادي است و مرجع شکايت وجود ندارد مردم شهر کابل از ترس ظلم تجاوز و کشتاري اشخاص غير مسؤل شهر کابل را ترك و به دشت هاي حصار شاهي و پاکستان هجرت نمودند هم چنان توسط راديوهاي خود پخش مي نموديد که موزيم کابل و اثار قيمتي ودارايي عامه در زمان حکومت رباني و مسعود تاراج ګرديد. دخترها از ترس بي عفتي خود را به دريا انداختند و از منزل سوم مکرويان خود را به زمين پرتاب نمودند. حالا چه حادثه رخ داد چرا يکدم تما، ګفتارهاي تان را فراموش نموديد که همين اداره فاسد را به رسميت شناختيد و انرا رسماً به حيث رئيس جمهور افغانستان به کانفرانس روم دعوت وموقف سياسي و بين المللي انرا بلند نموديد و نماينده همين اداره فاسد را که [illegible] افغانستان حتي از شنيدن نام ان نفرت دارد در ملل متحد جاداديد ايا اين عمل شما و ممالك غربي با ګفتارهاي سابقه تان تضاد ندارد؟ ايا مردم خاموش وستمديده افغانستان چنين فکر نميکنند که با نشرات چارونيم سال ګذشته تان همه دروغ بود و يا اينکه شما با اين عمل تان اداره فاسد رباني را از زوال حتمي نجات داديد تا اتش جنګ در افغانستان خاموش نه ګردد وويراني افغانستان ادامه يابد ايا اين عمل تان بر خلاف اراده مردم افغانستان نيست؟ ايا مردم رنج ديده افغانستان چنين تصور نخواهد کرد که سبب تمام اين جنګ هاي چارونيم ساله همين اداره ملل متحد و ممالك غربي است؟ ايا اين بي عدالتي ديموکراسي را نقض نمي نمايد؟ ايا مردم افغانستان تا صدها سال اين ظلم و بي انصافي شما را فراموش خواهد کرد؟ ايا همين مردم افغانستان نبود که مانع رسيدن روس ها به اب هاي ګرم شد و جهان غرب را براي همیش از طوفان روس هاي سرخ نجات داد؟ حالا مکافات شما به افغانها فقط براي اينکه حکومت اسلامي در افغانستان تشکيل نشود و از ان جلو ګيري نمائيد تمام حوادث چارونيم سال ګذشته را به حيث تحفه به افغانها اهدا نموديد. اګر شما بخواهيد در ظرف يك هفته فير تفنګ در افغانستان شنيده نخواهد شد.

دوم: ملل متحد ممالك غربي وسازمانهاي بين المللي خوبتر ميدانند که در چارونيم سال ګذشته اداره فاسد رباني شهر کابل را به ويرانه بدل ساخت در جنګ هاي مسعود رباني و خليلي دشت برچي کوټه سنګي قلعه واحد مهتاب قلعه، خوشحال مينه، جمال مينه، کارته مامورين علي اباد پوهنتون کابل، ده بوري، ده مزنګ کارته سه، کارته چار، چلستون دارالامان وغيره همه خراب و به ويرانه مبدل ګشت طيارات اقاي مسعود بداخل پايتخت خاك خود در نواحي فوق بم هاي خوشه يي پرتاب نمودند باعث قتل هزارها پيرو جوان زن و کودك شدند همچنان مسعود، رباني و خليلي در تمام نواحي ذکر شده مين فرش کردند و هزارها پيروجوان را معيوب و به قتل رسانيدند در قسمت شرقي کابل نيز در دوره رياست اقاي رباني جاده ميوند، مکرويان ها، پل محمود خان، ده افغانان، کارته نو، بکرامي، سياسنګ وغيره وغيره در جنګ هاي دوستم خون اشام و مسعود رباني و هم در جنګ هاي دوستم، مسعود وحکمتيار همه به خرابه مبدل ګشت طيارات دوستم خون اشام و مسعود تمام قسمت هاي شرقي وغربي کابل را که پايتخت مملکت شان بود ويران نمودند و هزارها زخمي و کشته بجا ګذاشت، هم چنان تمام نواحي پايتخت خود را مين فرش کرد که تا امروز اطفال و زنان توسط ان به قتل ميرسند و معيوب ميشوند. اقاي دوستم علاوه برمردها زنها و اطفال حتي حيوانات را نيز به قتل ميرسانيد و از همين سبب لقب پر افتخار ګيلم جم را به خود کمائي کرد معني ګيلم جم در اصطلاح افغانها اين است که زنده جان ديګر در ان قاتل باقي نماند و ګيلم قاتل به صورت مطلق جمع شود. حالا بايد خود ممالك غربي و ملل متحد قضاوت کند که مردم رنج ديده افغانستان اقايان مسعود رباني خليلي و دوستم را دشمن مال ناموس و خاك خود نميدانند؟ ايا انها اله دست اجانب و حامي منافع اجانب نيستند؟ ايا مردم افغانستان از شنيدن نام انها نفرت ندارند؟ ايا پيروجوان زن و مرد نميدانند که اقاي مسعود رباني خليلي و دوستم به اشاره اجانب چارونيم سال قبل معاهده ننګين جبل السراج را امضا و از برکت ان براي چارونيم سال جنګ ها ويراني ها مهاجرت ها و رنج هاي ګوناګون نصيب مردم افغانستان شد و حالا بار ديګر همين خاينين دوستم رباني مسعود و خليلي به اشاره اجانب معاهده ننګين جنجان را امضا کردند که نتيجه ان جنګ ها و ويراني هاي موجوده است؟ ايا مردم افغانستان نميدانند که ممالك غربي محض براي جلوګيري از يك دولت اسلامي تمام مصايب و بدبختي ها را بالاي مردم افغانستان روا داشته که قلم ازنوشتن ان عاجز است؟ ايا ملل متحد و ممالك غربي از همه خوب تر نميدانند که حکومت رباني قبلا هم غير قانوني بود و فعلاً هيچ وجود ندارد لاکن براي اينکه جنګ در افغانستان ادامه پيدا نمايد انرا به حيث رئيس جمهور افغانستان رسماً دعوت مينمايد و نماينده انرا از اداره ملل متحد خارج نميسازد حتي نمايندګي افغانستان را در ملل متحد به حالت تعليق هم قرار نميدهد؟ ايا ممالك غربي و ملل متحد خوب نميدانند که پايتخت افغانستان در دست تحريك اسلامي طالبان و بالاي ۷۵ فيصد خاك افغانستان تسلط دارد همکاري مردم با انها موجود امنيت عام و تام تامين است و يك حکومت نماينده است بايد به رسميت شناخته شود مګر بخاطر اينکه تحريك اسلامي طالبان حکومت اسلامي را پياده مينمايد انها را تجريد نموده و به رسميت نمي شناسند؟ ايا ممالك غربي و ملل متحد اطلاع ندارند زمانيکه تحريك اسلامي طالبان هر ولايت را اشغال مينمايد در ان ولايت جشن ها برقرار ميشوند زنها و مردها خوش ميشوند و جالب تراينکه زنها نسبت به مردها بيشتر احساس خوشي مي نمايند؟ ايا ممالك غرب و ملل متحد نميدانند همه مردم افغانستان ازتحريك اسلامي طالبان طرفداري مينمايند صرف يك فيصد مردم که انها يا مامورين عالي رتبه دولت غير قانوني سابق اند پاکستاني اند که دست هاي شان از ظلم چور و چپاول ګرفته شده و يا زنهاي اند که زنده ګي ديموکرات داشتند و فعلاً جلو انها ګرفته شده بنا؟ شکايت دارند و خود را بندي احساس مي نمايند؟ ايا ملل متحد و ممالك غربي از همه خوبتر نميدانند که در تمام ساحه هاي تحت تسلط تحريك اسلامي طالبان زنها ازادي تام داشته و در امور روزمره زندګي به اطمنان تمام مصروف کار و فعاليت هستند؟ ايا ملل متحد و ممالك غربي نميتوانند نماينده هاي با صلاحيت و قابل اطمنان خود را به افغانستان ارسال دارد تابه تمام ولايات افغانستان سفر نموده اوضاع را از نزديك مشاهده و حقايق را معلوم نمايد. و به راپور هاي جعلي که توسط مخالفين تحريك اسلامي طالبان به هزارچال وتيرنګ به سازمان هاي بين المللي به دست دوم وحتي سوم ارسال ميدارند صحت وعدم صحت انرا معلوم نمايند؟ ايا همه افغانها خبردارد که اقاي احمد شاه مسعود طرفداران بسيار جدي و فعال خود را به هزار چال و فريب در موسسات بين المللي داخل نموده که تقريباً ۹۰ فيصد کار کنان داخلي موسسات خيريه و بين المللي را افراد بسيار نزديك احمد شاه مسعود تشکيل داده و قسمت اعظم کار هاي استخباراتي تخريبي و تبليغاتي خود را توسط همين کارکنان اعمالي انجام ميدهد واکثراً کارکنان مذکورا سورقوق را به کومك موترها يکه بيرق ملل متحد دارد انجام ميدهد و از وسايط مخابراتي ان نيز استفاده مي نمايد؟

سوم: تمام جهانيان اطلاع دارند که امريکا و ممالك اروپايي از ترس هجوم قشون سرخ شوروي براي دفاع خاك خود سالانه به ملياردها دالر در امورات نظامي وساختن اسلحه جديد به [illegible] همين افغانها بود که وطن خود را ويران [illegible] شهيد داد و بالباهي مرده، خاك خود امريکايان واروپايان را از هجوم قشون شوروي نجات داد يا به عبارت ديګر افغانها با جنګ ۱٤ ساله باروس ها نتنها خاك خود را نجات نداد بلکه تمام جهان را از هجوم قشون سرخ خلاص نمود حالا بايد جهانيان خصوصا امريکايان واروپايان جوانمردانه در اعمار دوباره افغانستان سهم فعال ګرفته وظيفه انساني خود را انجام نمايد و در تامين وحدت ملي افغانها ازدل و جان همکاري نمايند و ما اين کومك ها را جهت اعمار مجدد افغانستان حق مسلم افغانها ميدانيم و بالاي جهانيان حق داريم تا وطن ويران شده ما را دوباره اعمار واقتصاد ما را احيا سازد بدون انکه بالاي افغانها احسان بګذارد و هزاران نوع بهانه ګيري و ناز نمايند در حاليکه برعکس امريکايان واروپايان بعد از ختم اتحاد شوروي افغانستان را نه اينکه کاملا فراموش کرد بلکه تمام جنګ هاي چار سال ګذشته را اساس ګذاشت که مثال بسيار تازه ان جنګ هاي فعلي شمال کابل و بادغيس است اګر ملل متحد دولت غير قانوني رباني را به رسميت قبول نمي کرد و نماينده انرا از ملل متحد خارج ميکرد دولت رباني به زوال حتمي مواجه بود جنګ ختم مي شد تماميت ارضي افغانستان تامين و يك حکومت مرکزي موجود مي امد. هم چنان معاهده ننګين جنجان که به اشاره اجانب صورت ګرفت عامل جنګ هاي موجوده است تمام اشخاصيکه در جلسه تاريخي ۹٦.۱۱.۲۲ اعضاي شوراي هم بستګي با تحريك اسلامي طالبان جمع شده بود به حديث تمام از ملل متحد تقاضا مينمايند تا هر چه زودتر دولت تحريك اسلامي طالبان که نماينده ګان واقعي مردم افغانستان اند و اکثريت بزرګ مردم افغانستان از انها طرفداري مينمايد به رسميت بشناسند و به کارهاي اعمار مجدد افغانستان طور جدي و فعال اغاز نموده و بهانه جوئي هاي که فعلا موجود است به ان خاتمه داده شود. در غير ان مردم افغانستان مغز دارند عقل دارند همه چيزهاي پشت پرده را ميدانند تا صدها سال حقيقت را فراموش نخواهد کرد و اګر وضع به همين شکل دوام داشته باشد و حق به حقدارش سپرده نشود بالاخره مردم افغانستان عقده ګرفته و براي احقاق حقوق خود از هيچ نوع قرباني دريغ نخواهد کرد فعلا نيز بين مرګ و زندګي شان چندان فاصله وجود ندارد. از طرف ديګر طبع نوت هاي بدون پشتوانه از طرف مسکو واهداي ان به يك اقليت کوچك يك جانب قضيه افغانستان از يك سو باعث دوام جنګ و از جانب ديګر باعث تورم پولي ګرديده رنج هاي مردم افغانستان را صد چند و هزار چند بالا برد. ولي ملل متحد امريکا و ممالك اروپايي درين مورد خودرا خاموش ګرفته واقلا يك بار به احترام انسانيت هم نمي ګويند که اقليت ازبك حتي ۳ فيصد مردوم افغانستان را تشکيل نداده است چرا و به کدام اساس روس ها براي دوستم خون اشام که مردم افغانستان ازنام ان نفرت دارد پول چاپ مينمايد ايا دوستم رئيس جمهور افغانستان است يا صرف سردسته يك ګروپ اجيران که مردم از انها نفرت دارند و دست هاي شان به خون مردم افغانستان الوده است اوفقط براي براوردن منافع روس ها کار مينمايند. طور مثال اګر تحريك اسلامي طالبان به تن ها دالر چاپ نمايد و انرا به يك ګروپ مخصوص امريکايان که با دولت امريکا در حال جنګ باشد ارسال بدارند عکس العمل امريکا چه خواهد بود به يقين که به مقابل تحريك اسلامي طالبان اعلان جنګ خواهد کرد و تحريك اسلامي طالبان را بنام هاي جعل کاران قاچاق بران دزدان خاينين مخالفين حقوق بشرو منشور ملل متحد وغيره ياد خواهد کرد ورا ديوهاي غربي هياهوي و غوغا را برپا خواهد نمود مګر فعلا که روس ها براي قاتل مردم افغانستان و سردسته باند ادم کشان اقاي دوستم به تن ها افغاني چاپ مينمايد واقتصاد افغانستان را باخاك يکسان کرد هيچ صدا نمي کشند و بلکل خاموش اند اما بر خلاف در مورد بسته شدن موقتي مکاتب دختران در حاليکه به مراتب اعضاي بلند پايه تحريك اسلامي طالبان اعلان نموده تعليم مطابق اصول شرعي بالاي مرد وزن هردو فرض است فعلا چون حالت جنګ است و حالت اضطراري است ما طور موقت مکاتب دختران را تعطيل نموده ايم از صبح تا شام هياهوي و غوغا را اغاز کرده و ميخواهد که ذهنيت مردم افغانستان را به مقابل تحريك اسلامي طالبان تغير دهد مګر بدانند که خدا(ج) با ما است و حق بر باطل غالب است. (س ٤)

دجګړو په اور کي ورتيله کړ، دچا سر، مال او ناموس په امن کي پاتي نشو، ظلم، تيري، لاړ وهني، چور او چپاول د رباني دحکومت او مخالفينو يي ورځني عمل وګرزيدل، دجهاد هغه سرمايه، هغه وسله چي داسلامي امت دپاره دګډ ناموس ددفاع قيمتي پانګه وه، داسلام او افغانستان ددښمنانو په اشاره په خپل منځي جګړو کي له منځه لاړه، هغه قهرمانان او اتل ملت چي دنړي [illegible] شول دنړي ستر مادي استعماري ځواك شوروي اتحاد را په ګونډو کړي، ددي په ځاي چي خپل هيواد ودان او دپرمختللي نړي په ليکو کي يي ودروي، دخپل منځي جګړو له کبله يي نه يواځي دخپل ويجاړ هيواد ودانولو ته پري نښود، بلکي دبي مقصده جګړو له کبله يي دفقر او بدبختي په اور کي داسي وسوزاوه چي لوخړي يي اسمان ته پورته شوي.

ددي په ځاي چي له قاتل، مستبد او خونخوار پخواني شوروي اتحاد څخه د ځوارلس کلني جګړي تاوانونه واخلي، دوباني سرقانوني اداري دملت دهغه قاتل داسلامي کړي په غاړه کړ، او هغه يي دځوارلس کلني جګړي له تاوان څخه بري اعلان کړ او دافغانستان دجهاد او اتل مسلمان ملت په مخ باندي يي دمايوسي چاپيره وګړ، ددي په ځاي چي [illegible] ودروي په روسيه کي [illegible] دخپل قدرت [illegible] د خاطر [illegible] احسان [illegible] کړل چي له يوي خوا يي دافغانستان متحد او يو موټي ملت په نفاق او شقاق باندي اخته کړ او له بلي خوا يي دهيواد اقتصاد له ساحي سره مخامخ کړ دافغاني ارزښت يي مرداني له صفر سره برابر کړ.

دهيواد صدر اعظم ګلبدين حکمتيار په خلاف يي ددوستم له کمونست مليشو سره ائتلاف وکړ په هيواد کي يي د سکتوري جګړو لړۍ پيل کړه، او بيا خپله صدر اعظم صاحب دجمهور رئيس رباني پرخلاف له همدغي کمونستي مليشي سره اتحاد وکړ او دافغانستان خلك يي مړه کړل، چور يي کړل، بي غرته يي کړل او نورو هيوادونو ته يي په هجرت کولو مجبور کړل. يواځي دکابل په ښار کي ددولت دصدر اعظم ګلبدين حکمتيار او جمهور رئيس رباني ترمينځ جګړه کي تر پنځوس زره زيات خلك وژل شوي او په سلهاوو زره نور يي له خپلو کورونو څخه بي کوره شوي دي. په هيواد کي هيڅ مرکزي حکومت موجود نه و، جمهور رئيس دهيواد په پلازمينه باندي بشپړ تسلط نه درلود، دهيواد په شمال، جنوب، لويديځ او ختيځ کي د بي شميره وسله والو ځواکونو بي شميره حکومتونه وو، داسمعيل خان ځانته حکومت و او ددوستم ځانته، دقدير بيل حکومت او دزرداد بيل حکومت، دمسعود بيل حکومت و او د فهيم بيل حکومت، هر سيال ګوند بيا ځانګړي حکومت او ځانګړي کابينه يي درلوده.

دافغانستان ددغه وران ويجاړ او زار حالت دپاره ګاونډيو هيوادونو، ملګرو ملتونو، او اسلامي کانفرانس يوځو په خپل وار دسولي او روغي هلي ځلي کړي دي، غوښتل يي چي دغه بي شميره حکومتونه په يو حکومت کي سره راګډ کړي [illegible]

[illegible] داسلامي جهاد او اسلامي شريعت پرخلاف او افغاني [illegible] دطالبانو داسلامي تحريك دصبر پيمانه يي لبريزه راډکه کړه. او ديني طالبانو نور دانتظار شپي پاي ته ورسولي خپل کتابونه يي په مدرسو کي پريښودل او ددغو مفسدينو، جګړه مارو، لوټمارانو او داستعمار دمزدورانو پر خلاف يي خپل مقدس جهاد له سره پيل کړ او په ډير لږ وخت کي يي دغه دښمن او فساد ځالي له بيخه څخه وتړولي له بولا که تر فاريابه، له کابله تر هراته او له زابله تر کونړه دهيواد دپلازمني کابل په شمول ۷۵٪ دهيواد خاوره يي له دغو مفسدينو څخه پاکه کړه او داسلامي شريعت په تطبيق يي هلته يو واقعي اسلامي دولت، داميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد په مشري، رامنځ ته کړ چي دهيواد په ډيرو برخو باندي يي بشپړه واکمني رواله ده او خلك په ډيره خوشحالي او مينه سره دمرکز د احکامو او اوامرو اطاعت کوي او دغه پروسه لانوره هم په ډيره چټکي سره د اکمال په لور روانه ده.

(۱) دهيواد مرکز کابل دمرکزي دولت وقدرت دتمثيل په توګه دطالبانو داسلامي تحريك په لاس کي دي.

(۲) په دري برخي افغانستان کي دوسلو ټول اميراتونه رانيول شوي دي، مختلفي وسله والي ډلي بي وسلي شوي دي او دا پروسه په نور هيواد کي په چټکي سره روانه ده.

(۳) دطالبانو داسلامي تحريك تر کنټرول لاندي سيمو کي ٤ مخ

ستاسو ليکونه زمونږ ځوابونه

د کفري راډيوګانو ناوړه تبليغات

دشريعت اونيزي درنو او محترمو کارکوونکو السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته خداي مو دحق دخدمت لپاره تل روبرکړه.

د کابل له فتحي سره دکابل دښاريانو اوږد [illegible] له [illegible] او تهديد او قحطي څخه خلاص شول [illegible]

[illegible] شرعي کلتور او مود او فيشن پوښلي په ناموزونو شرايطو کي دفتر ته له تللو ايساري شوي دي نو دښځو د حقوقو په بهانه اعتراضونه او دنړيوالو دمرستي بنديز او تهديد بر افغانانو دغير اسلامي قانون تپل نه دي نو څه دي. په درناوي
طالب العلم محمد ابراهيم «زرمتی»

په اداره محترم هفته نامه شريعت
السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

نخست از همه سرفرازي و کاميابي تان را از خداوند کريم استدعا ميدارم اينجانب يکي از علاقمندان وخوانندګان اخبار شريعت بوده و ميباشم اين اخبار چون از نګاه هويدا است يك اخبار سياسي، اجتماعي و تربيوي بوده که تمام واقعيت ها روزمره را منعکس ميکند و به تمام برادران مسلمان و اداره افغان مي رساند من از مسؤلين و کارکنان اخبار شريعت از صميم قلب سپاسګزارم، خواستم چند مطالب واشعار و مضمون هاي ادبي را از طريق همين اخبار به چاپ برسانم ګه اينك يك پارچه ادبي را براي چاپ ارسال ميدارم اميد است در اخبار شريعت در نشريه بعدي تان به چاپ رسد. والسلام
شاه ولي محمودي.

برادر محترم شاه ولي محمودي:
سلام، تمنيات [illegible] از حسن نظر تان در مورد هفته نامه شريعت يك جهان تشکر مطلب تان بالنوبه چاپ خواهد شد.(اداره)

د شريعت ورځپاڼي محترمو کارکوونکو السلام عليکم و رحمة الله برکاته!

هر څه نه وړاندي ښاغلي او محترم امير المؤمنين محمدعمر «مجاهد» «دطالبانو داسلامي تحريك عالي شوري، دشريعت اونيزي مسؤول مدير او دافغانستان اسلام پالونکي ملت هر فرد فردته دزړه له تله نوده او ګرمه مبارکي وايو چه دافغانستان زړه ددغه اسلامي تحريك په لاس فتح شو.

خورو وطنوالو! تاسي وليدل چه زمونږ مجاهد او قهرمان ملت دبي شرمه او بي رحمه سره برغل په مقابله کي ډير کلونه دغرو رغړاو دښتو نورې تندي او پدغه لار کي به لکونو مسلمان او مجاهد وګړي ديو سپيڅلي هدف تر لاسه کولو لپاره بداسي حال کي شهيدان شول چه په ميليونو کونډي او يتيمان يي په ځاي پريښودل، ددغو ټولو نه هيريدونکو سربندنو په نتيجه کي دخداي (ج) په مرسته افغانستان دسره پوځ او داخلي تالي ځنو هديره وګرځيده او په ترېواله
٤ مخ

ایت صلح

سهیلا «...»

گلهاي مهر بشگفد ازگلستان صلح
اواز امنیت رسد از کاروان صلح
در مزغزار میهن باعزم و اتفاق
از جان در گذر چو مرد، ره رهروان صلح
بگذار جنگ و کینه و بغض و نفاق را
بنگرحریم رفعت خوش استان صلح
ایت صلح گشته به فرقان حق بیین
خور شید وارشعله نور عیان صلح
چون داشت سالها همگي ارزو به دل
زود ا، و بخر که رسیده زمان صلح
اواره در بدر دل خونین وبینوا
آ در وطن به گلشن امن و امان صلح
صلح است آنکه لمعه ستاید زجان ودل
باليل و نهار زمزمه ارمغان صلح

اي وطنه !

نور الحق «حامد»

االي وطنه ته ازاد شوې له روسانو
له بي رحمو کمونستو پرچمیانو
غلامانو جوړولي غلامي ته
ته بي خاوره دباتورو افغانانو
بیا پراو دمجاهدو په تا راغي
اوس پوره به شي ارمان دشهیدانو
زمونږ زړه کي دایمان جذبه پرته ده
خلاص به نشي اي بي پتو غلامانو
لري خوځښت دطالبانو درروان دي
بچ به نشي دفرعون انديوالانو
دغه څو ورځي دوران به ستاسو تیر شي
بیا به څه کړي دورانیت انجینرانو
تاسو پریخوده خپل دین کافرته لاړي
ددوستم دکنډوالو چوکیدارانو
حقیقت ستاسو ملت ته اوس معلوم شو

د شهید مزار

عبداللطیف «نثار»

اي دوطن زلمو بچیانو سنګروله ورشي،
دطالبانو ننګه وکړي دنګو غروله ورشي،
چي بي بځن زړي زړي شو دروسي په ټو
دهغو پاکو شهیدانو مقبرو له ورشي،
سپیني جنډي مو په مزار دشهیدانو ږدي
وطن ټول قبر ګرځیدلي هدیرو له ورشي،
دیر کړولي قاتلانو پانکیانو و دوي
دیښمانو ترمو اوښکر هاسنګوله ورشي،
دطالبانو مشابخو چي پنځي شول خپري
سر تري قربان کړي دقران حاکمیدو له ورشي،
ددین ناموس دیښمنان بیا درته مسکو کي شول ټول
دګلم جمو مقابل کي جهادو له ورشي،
چه خطیبانو بي سنګر کي ملاتړلي ده تن
پرتاسو فرض دي چي هاوراتو جوماتو له ورشي،
«نثار» لامخکي دریدلي د الحاد مخي ته
حي خداي(ج) مومل شه. دشریعت نافذیدوله ورشي،

منصفانه فال

«صفي الله منصف»

دا غیرت مي په خلقت کي ذوالجلال ایښي دي
په میدان دامتحان مي ټهر ډال ایښي دي
په شیدو که مي روزلي محبت د وطن
سرو مال مي دافغان په استقلال ایښي دي
شجاعت مي و دنیا ته دي څرګند به رښتیا
دتاریخ په مخ مي داسي ښه مثال ایښي دي
دتیري توري په شرنګ مي فیصلي وکوړه
په عزیز وطن هر وخت مي سرومال ایښي دي
دهغه نیکه اولادیم درښکاره به کوم زور
ستا دپاره مي دتیښتي لوی جنجال ایښي دي
په سرو وینو مي ګټلي دوطن محبوبا
چي په مینه مي خپل سرستا په وصال ایښي دي
یا به مرم یابه کامیاب یم خامخا په دنیا
:حیات اساس مي ټینګ په دي منوال ایښي دي
زمونږ حقوقو ته قانع شه داخپل خیرو ګټه
کـه نه ژربه شي رسوا منصف دافال ایښي دي

جهادي لنډۍ

پالیزوکي طالب العلم محمد اشرف حسرت

کړه ددسمن لخوا شهید شوي
دوطن پیغلي به زیارت لره درځینه
یار مي په جنګ کي ځان شهید کړه
حکه همځولي په خندا ماته راځینه
جانانه څه تویک دي واخله
په اسلام جنګ دي ګرانان ځان شهیدوینه

د ادب ملغلري

صهباي لطف

محمد حسن «حقیار»

بي اعتنا حسن زما دبي خودئ تاثیردي
ائین دمخ کي دي زما دمایوسئ تصویر دي
ښکاري چي هلته مي لیلامخ په حجاب کي تاوکړ
دلته په ما چي شوه تیاره هم مي احساس زهیردي
عقل او هوښ مي دواړه پټ شول دجنون پردو کي
چي پروت په غاړه کي مي ستا دمحبت ځنځیر دي
دغناو تسلسل ته شه بریښنا تالنده
دللمي کښت مي اشنا ستا دتقاضو اسیر دي
صهبا دلطف، دالفت په بلوري جامو کي
ددي خمار انسانیت دغه فطري ضمیر دي
تیر خاموشئ کي له مشامه نرګسي نکهت شو
نه استدلال دي، دا کاروان ددي جهان تفسیر دي
خدایږو خلعت دي داتوم شو لوي طاعون ژوند لره
داګونګسي، دا انعکاس او دابو عام تقیر دي
داله تعمیم نه شوه تخصیص او استثني ثابته
که هر څودي «حقیار» غني خو درکي ستا فقیر دي

غزل

(لوګری)

ستادمحبت په اور کي سوي خاکستر ښه یم
ټول کړم کړم زخمي زخمي پروت په بستر ښه یم
نه غواړم شاهي جانانه لري چي لتا نه یم
خوښ په ملنګي کي ګریوان څیري قلندر ښه یم
ستا د رضا لئه به هر دم په هر قدم ګوم
بیاره ستا د مینې په جهان کي در په در ښه یم
ستا د کوځي خاوره له سرو زرو راته غوره ده
ستا درشل کي پروت په لوره تنده شام سحر ښه یم
دغه ویرجهان که ټول زما ترنګين لاندي شي
خدایږو ګرانه یاره دروازه کي دي نوکر ښه یم
نه راته راضي شه بل ارمان په جهان نه لرم
ستا په قلمرو کي سینه چاک سرتور سر ښه یم
وایي (لوګری) جانانه کاشکي لوګي شوي وي
ستا خوښي د پاره تینه شوي په مجمر ښه یم

دعلم رڼا

احمد شاه «وحدت»

علم دځان او دجهان پیژندل
علم دڅکي او اسمان پیژندل
عمل تیاري ته خلق رڼا ته بیایي
علم دي شپې کي د سبا پیژندل
علم د مینې محبت نوم دي
د صداقت او حقیقت نوم دي
علم عزت او شرافت ته وایي
توري، میړانې او غیرت ته وایي
علم امسا ده دړندو لپاره
په تن کي ساه ده دژوندو لپاره
دآبادي دوداني نخښه ده
دا دانسان دبزرګي نخښه ده
علم ده زده کړه د جاهل لپاره
دا دژوندون د خوشحالي نخښه ده

رباعي

سحرګه ود دنرګس لیمه لامده
څاڅکي څاڅکي بي له سترګو څڅیده
ما ویل څه دي ښکلیه ګله ولي ژاړي
ده ویل ژوند مي ده یوه خوله خندیده

نازو انا

ویوي در سره وړه

ملا اسد الله «حنیفي»

که تله دي په تیارو کي وي دیوي درسره وړه
نکل که د حریت کړي پر ګښي درسره وړه
که غواړي چي دکفر ځاله وسوزي له سیلمي
اواز دوحدت حګ کړه ترانې درسره وړه
مسلم څواکونه یو کړه چي طاغوت پرمخي پریوزي
دنیا کړه ورته ورانه زلزلي درسره وړه
فساد نه روږد نیل شه بیوز لان ورځني ژغوره
خوني مجونه پیل کړه ټیږي درسره وړه
د کفر جام سکور کړه له څیځه تر لویدیځه
فاتح دهر دګر شه ولولي در سره وړه
په ګنللده سفر دسوکالي په لوري تله کړه
ګلیږه څراغان شه سري لمبي درسره وړه
دښمن په ګونډو شوي چي همت دي ستړي نه شي
مرچلو د جهاد نه څه حملي درسره وړه
داستر کاروان روان دي دمنزل په لوري تله کړي
اوازېي د تکبیر شه انګازي درسره وړه
که غورځي سرو لمبو ته «حنیفي» درسره بویه
د تن جامې کفن په وینو سرې درسره وړه

په افغانستان کي داسلامي ښوونې او روزنې دمرکزونو تاریخي سیر

لیکوال: «هاشمي»

په تیر پسې

۲- ثانوي دوره (ديني مدرسه)

